

# سیند په پرخه کي

پروین پژواک

Ketabton.com

د اجمل اند ژباړه

دانش خپرندویه ټولنه

ketabton.com - The Digital Library




SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# سیند په پرخه کې

د پروین پژواک

د ځو شعرونو ژباړه

اجمل اند

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

## کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : سیند په پرخه کې

شاعره : پروین پژواک

ژباړن : اجمل اند

خپرندوی : دانش خپرندویه ټولنه ـ پېښور

شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال : ۲۰۰۹ م / ۱۳۸۸ ل

د پښتۍ د طرحې په ګډون ددې ټولګې ټولې انځوریزې طرحې هژبر شینواري کښلي دي.

**چاپځی**

د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه ـ پېښور

Tel:2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

Web: www.danishpress.com


AnyScanner

دا ژباړه :

خپلو خوږو ګلیوالو یارانو، ډاکټر بشیر احمد پرهر، ګلاب او
خان ولي کامران ته ډالۍ کوم چې له ماهره به یې د "میاغونډۍ" پر
سر د "کوکنار ګل" هر رنګین او ستړی مازیګر د حمزه بابا په غزو نو
نمانځه.

اند

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پروین پژواک څو شعرونه

داجمل اند په لاس ځیني شعري ژباړې راسره دي، شعرونه د محترمې پروین پژواک له هغه کتابه غوره شوي دي چې (( دریا در شبنم )) نومېږي دهر چا یې خوښه ! زما پر اند، د نړۍ په ادب کې دغه شاعره له هغو وتلیو ښځینه لیکوالو څخه ده چې ښایي شمېره یې د ((پروین)) د غنچې په کچه وي، زه دغه خبره کوم او په سره سینه یې کوم، په داسې حال کې چې د ډېرو سترو ښځو شعرونه مې د فکر پر مدارونو کې ګرځي راګرځي.

کله کله ښځینه شاعرانو ستره شاعري کړې ده، که له یوه ځانګړي لېد لوري نه دغه هنر ته وګورو ویلی شو چې د هر ډګر اتلان ( سړي) یې هم شاته پرایښي دي، دغه برلاسي یو لامل لري او هغه د ښځینه ذات بې تو له عاطفه او روښانه رواني انځورونه دي، چې شعر ته یو ځانګړی رنګ او خوند ښښي، سړی بیا د دغو رواني انځورونو په پرتله د عیني طبیعت اجزاء د تخیل په تار ځغلولی شي.

ښځې د یوې مور په توګه له ازله یو زوروره عاطفه راوړې او ډېره ژر د شاعرانه کیفیت تر اغېز لاندې راځي. دغه مهال له شعور سره د انسان تړاو کمزوری شي، او د لاشعور افاقي جلوې د شهکارې شاعرۍ بنسټ ګرځي.

دغه تلپاتې اغېز دهرې شاعرې د تخلیقي تجربو مل دی که د بیلیتس، فروغ فرخزاد، پروین شاکر او پروین پژواک د شعرونو فضا، کیفیت او جذبات په غور سره وګورو، تولې د عاطفې او رواني انځورونو په زور میدان ګټي. راځئ چې د لاشعور او کلتور په تناسب څو خبرې وکړو او دا هغه ځای دی چې

ketabton.com - The Digital Library

زه د پروین پژواک نوم د پورتني لړ نه بېلول غواړم.
په شعر کې رواني کیفیت دې ته لاره هواروي، چې د شاعر جذبه او تجربه له لوستونکي سره ګډه شي، خو پوښتنه داده چې د دغو جذبو او تجربو اظهار څنګه په کار دی؟
دې پوښتنې ته له بېلا بېلو لېدلورو یو نه جلا جلا ځوابونه ورکړ کېدای شي!
خو زه وایم چې د ریښتوني تمدنې ټولنې غوښتنه څه ده؟ ایا شاعرانو ته په کار ده چې یوه فطري جذبه په خپل حالت بیان کړي او که نه کلتوري تراش یې ضروري دی؟ زه پوهېږم، چې زما خبره به مخالفین پیدا کړي خو بیا هم دویم حالت غوره بولم، خو د لاشعور د زور مخې ته د خپلو کلتوري ارزښتونو بندونه خورا ډېر ځواک او سپېڅلې ریاضت غواړي. د پروین لوړتیا ته رسېدل تش په توره نه کېږي.
اسماني مذهبونه، د اخلا قو ډېر پوهان او فیلسوفان وایي، چې د ژوندیو موجوداتو او په ځانګړې توګه د حیواناتو تر منځ ځیني ګډ صفات موجود دي، دلته باید یوه بله پوښتنه رامنځته کړو او هغه دا چې د یو ځناور او یوه انسان د یوې جذبې او غریزې د اشباع تر منځ څه توپیر دی؟ که په ژور نظر وګورو لوی توپیر دادی، چې انسان د عقل کلتور یا مذهب له مخې غریزې او جذبې تراشي او همدغه پر جذباتو حکومت دی چې انسان له نورو حیواناتو نه غوره ګرځوي.
د پروین پژواک هم خپل جذبات د غلامانو په څېر ګرځولي دي. داسې غلامان چې د افغاني کلتور حلقه یې د غوږونو پسول دي، نو ځکه یې د خپل هېواد او خپل کلتور د بخت رڼا بولم.
ښاغلي اند ددغې شاعرې ښایسته ډېر شعرونه راژباړلي دي، ښه یې کړي دي، ډېرې ګټې لري، پروین پژواک که ښځینه لاشعور د افغان کلتور په هنداره کې څرګند کړ، هېوادوال یې هم بې مینې نه دي، زړونه یې غواړي، چې دغه تلپاتې شاعرې تر هر ځایه ورسوي چې ځای یې دی. خو بنده تر وسه

ketabton.com - The Digital Library

پر دی، له دري نه پښتو ژباړه یوه څانګړې کته هم لري، دا چاره په افغانستان کې د دري او پښتو ژبو د شاعرانو او لیکوالانو ترمنځ ګډې کلتوري اړیکې لا پسې کلکولای شي. بله خبره چې زه یې کول غواړم هغه د ژباړې د ارزښت یوه عامه ګټه ده. انسانانو له څانونو سره ګډ طبیعت راوړی دی. که کلتور سیمه او وخت هر څومره دوی یو له بله بېل کړي بیا به هم د ګډو بنسټیزو صفاتو خاوندان وي. له دې کبله هنري ذوقونه یو له بله څواک اخلي.

دا چې د پښتو ژبې ډېر زلمي شاعران یوازې په خپله ژبه کې د ذوقي ښکلا احساس کوي، نو څکه دغه راز ژباړو ته ډېره اړتیا لېدل کېږي.

خو د دولته یوه بله خبره هم شته ژباړه یو راز قرباني هم ده کوم ادیبان، چې د ژباړې وس لري ښایي وانګیري چې دومره ستونزې ګالم او یو کتاب ژباړم ولې په دغومره وخت کې خپل یو اثر ونه لیکم، نو په داسې حالت کې، چې څوک خپل اثر نه بلکې د بل اثر لیکي خامخایي کار د ستاینې وړ دی.

اوس به په څانګړې توګه د همدې ژباړې په اړه وغږېږو: ژباړونکي هڅه کړې ده، چې شعر پرته له کومه څانګړي تصرفه کټ مټ راوژباړي، د کیفیت د پیداکولو لپاره یې خپل خیالونه ورسره نه دي تړلي. دا کار ډېر ستونزمن دی خو، چې په بریالیتوب سره وشي، د ژباړې غوره بڼه یې بللی شو او زما پر اند ښاغلی اند په دې چاره کې بریالی دی.

اصلي شعرونه سپین دي او ژباړه یې د پښتو د ازاد شعر په بڼه ده، چې څانګړی وزن لري او ښایي دغه قید په څینو ځایونو کې د ژباړې او اصل ترمنځ لږ ډېر توپیر رامنځ ته کړی وي.

په پای کې باید ووایم، چې دغه ژباړه په بریالیتوب سره شوې ده، هیله ده لوستونکي به ترینه پوره خوند واخلي.

په مینه او درنښت

مصطفی سالک

پېښور ۲۰۰۲/۵/۸

ketabton.com - The Digital Library

دا شعري ژباړه، چې اوس ستاسې په لاس کې ده د اجمل اند د ذوق یوه ژوندۍ بېلګه ده.

زموږ په پروني ادبي ډګر کې بېنوا صیب، پسرلي صیب او سلیمان لایق شعرونه په شعرونو ژباړل او په نني ډګر کې اجمل لومړنی شاعر دی چې شعر یې په شعر ژباړلی دی وایي، چې الم ترکیف هر څوک وایي خو خوله د ملا عثمان غواړي.

اجمل بالکل د ملاعثمان توره کړې ده ژباړه یې د ټولو شاعرانه منل شویو معیارونو سره سمه غځیدلې ده او ځای پر ځای یې د ژباړې اغېزه هم له منځه وړې او بالکل د اصلي شعر ګمان پرې کېږي.

یو وخت زه محترم محمود فاراني ډېر په تنګ کړم، چې دري شعرونه مې پښتو ته وژباړه خوما هغه مهال د ځینو حساسیتونو له مخې دا کار ونه کړ.

اجمل نیکمرغه دی، چې له دغسې حساسیتونو څخه خلاص دی.

او په پوره صلاحیت، استعداد او برلاسۍ په فارسي ادبیاتو کې د هنر او نظر څښتن دی.

زه دده راتلونکي ادبي سباوون ته ډېر خوشاله یم

ځکه چې تر اوسه لا خط او بریت ځلموټی دی که د ژوند د منډو په چل پوه شو نو د ادب په ډګر کې به داسې جنډه هسکه کړي، چې سپین غر به یې هم له هسکوالي راټیټ وي، زه دوعا ورته کوم او ښه په اخلاص یې ورته کوم

احقر العباد – عصمت قانع

۲۰۰۱ ډیسمبر، پېښور

ketabton.com - The Digital Library

# د پروین پژواک د شعرونو دا ژباړه...

ژباړه په ټولیز ډول ستونزمن کار دی، او بیا د ادبي اثارو او په هغو کې هم د شعر ژباړه خو زړه چاودون غواړي، او اند انډیوال مې ښایي پر خپلو مټو او تنکۍ ځوانۍ په پراخې حوصلې غره او ډاډمن وي، چې دې ستونزمن کار ته یې متې رانغښتې دي او زه خوشاله په دې یم، چې تر ډېره په خپلې دې هڅې کې بریالی هم ښکاري

د دري ژبې د لوی اروا شاعرې پروین پژواک دا شعري طرحې چې ښاغلي اند ژباړلي د دوه زرم کال په نیمایي کې خپرې شوې دي او ډېر لوستونکو او د هېواد د ننه او بهر فرهنګي کړیو یې تود هر کلی کړی دی، پروین زموږ د هېواد په کچه یوازینۍ شاعره ده، چې د شعرونو د لومړنۍ ټولګې له خپراوي وروسته یې په ډېر لږ وخت کې د لوستونکو او خپلو نمانځونکو دومرد بهیر ورمات کړی دی، چې ځینو ان لکه د ښاغلي نشار، اند او ما په شان له هماغه پیله پښتو ته دغو ښکلو شعري طرحو د رااړولو لپاره متې راونغښتې وې. ما یې څه کم ځلوېښت طرحې پښتو ته راوژباړلې، چې د فردا په پروسږونو ګڼو کې یې څو خپرې شوې هم دي او له ښه مرغه ځنې هماغه شعرونه. چې ما ژباړلي وو اند هم ژباړلي دي خو په بېل رنګ او بېل خوند کې . په هر صورت دا ټول اعزاز د پروین دی، چې زه یې د مبارکۍ حقداره بولم د پروین د شعرونو تر ټولو جوته او غوره ځانګړنه داده، چې د کلمې په واقعي مانا ښځینه شعرونه دي، او د ښځې ټول عواطف ، احساسات او غوښتنې په کې ځان ښکاروي

ما ته اند ددې شعري طرحو دري اصل او دا ژباړې دواړه راکړې او غوښتنه یې رانه وکړه، چې هم یې وګوره او هم یو څه پرې ولیکه ما هم همداسې

ketabton.com - The Digital Library

وکړل، سره له دې، چې د دې شعرونو یا طرحو دري اصل مې څو ځله پخوا هم لوستی و ، یو ځل مې بیا ولوست او بیا مې د هر شعر ژباړه ورسره وکتله .
رښتیا خبره داده چې اند ډېره خواري کړې او مایې چې ژباړې ولوستلې نو هماغو مره خوند مې ورنه واخیسته لکه له اصل نه مې چې اخیستی و. اند تکي په تکي ژباړه کړې او هڅه یې کړې چې هر تکي ته د هغه دقیقه ژباړه او یا لږ تر لږه ورنژدې او معادل توری پیدا کړي، د لفظونو په انتخاب کې یې ښه زیار ایستلی او داسې یې نه دي کړي، چې له پخو خښتو سره ختې ولګوي بلکې له الفاظو سره یې داسې خواري کړې لکه یو معمار. چې د مرمرو توږل شوي او صیقل شوي کاڼي سره ږدي.
د پروین دغه شعري طرحې، چې ده ژباړلي دي د سپین شعر په قالب کې ویل شوي دي او وزن نه لري چې که دهر شعر لوستونکي هماغه اهنګ ته پام ونه کړي نو له بې وزنۍ سره به مخ شي او په ګرانه به خوند ترې واخلي، خو د اند ژباړې وزن لري، معنا دا چې په شعر ژباړل شوي دي او دا کار په رښتیا ډېر زیار غواړي سره له دې، چې یو نیم ځل به دده ژباړې هم د بې وزنۍ یا بد وزنۍ ښکار شوي وي مګر زیاتره څه چې په سلو کې نه نوي یې بریالۍ او خوندورې دي.
یو بل څه، چې په دې ژباړو کې زما پام وروا وښت هغه دادي کله کله اند د دې لپاره، چې ژباړې ښکلا وساتي د امانت پر اصل د نر غوندې سترګې پټې کړې دي او په یو څو شعرونو کې داسې ښکارې چې لږونې او زیاتونې شوې وي او له دې چې ورتېر شو د ځینو شعرونو سرلیکونه : بېهوده، په ساده ګۍ ، بحري درسینه په سمندر ، دردوسوی دنیا ، دوه خواووې، بهت په وبریدلي ، شال رهګذر په شال، لج په جرائت، رستاخیز په باران او ځینې نور په نورو بدل شوي دي. دا کار به ښایي ګران اند دې لپاره کړی وي چې ځینې یاد شوي سرلیکونه ښکلي نه ژباړل کېږي خو په هر دلیل چې وي دا کار ستونزه پیدا کوي، اول خو دا چې هر چا د دې شعرونو یا شعري طرحو اصل

ketabton.com - The Digital Library

لوستی وي نو ښايي د هماغه عنوان په ژباړې پسې وګرځي، چې ده لوستی او خوښ شوی يې و، نو هغه به د نوي عنوان لاندې خپل شعر څنګه پيدا کړي؟ او دويم دا چې پروين خپله خوښ کړي دي، نو که موږ يې وربدلوو دا به داسې وي لکه د بل چا زلمي زوی ته چې موږ د خپلې خوښې نوم ور اخلو په هر صورت ما دا خبرې ددې لپاره ونه کړې، چې د اند د ژباړو پر ښکلا به شکي يم ، نه هېڅکله داسې نه ده، د اجمل اند، چې څومره وس رسېدلی دی هغومره يې په دې ژباړو کې خولې تويې کړې دي.

ان دا چې زه په زغرده ويلی شم، چې دده ځينې ژباړې په نره له خپل اصل سره سيالي هم کولای شي لکه د الوت تر سر ليک لاندې دا شعر:

خپلو خوبونو کې مې والوزمه

زړه مې لړزېږي نا باوره شمه ځان ته ګورم

لکه د سيند پر سر الوت دمرغۍ

ايا بندي مرغۍ هم

لکه زما په څېر خوبونه وينې !؟

له دې ټولو خبرو سره سره دا د اند لوی بريالیتوب دی چې زه د لوستونکي په توګه ددې ژباړو د لوستلو پر وخت د ښکلا هماغو جزيرو ته ورسيدم او د کيفيت په هماغو چينو کې ولمبيدم کومو ته، چې ددې ژباړو د اصل د لوستلو پر وخت رسېدلی وم. په زړه کې مې اند ته دعاګانې وکړې اود خوشالۍ احساس راباندې غلبه وکړه خو سمدستي دا انديښنه زړه ته راولوېده، چې اند خو خپله شاعر دی او خپله دنياګۍ يې دومره ښکلې ده، چې ماغوندې ډېر زړه سترې په کې دمه کېدای شي. نو هسې نه چې دا ضمني کارونه يې له کاره وباسي، ځکه چې زموږ خو اند په کار دی، شاعر اند.

په مينه او عاجزۍ

عبدالهادي هادي

د اپريل لسمه ۲۰۰۲ پېښور

ketabton.com - The Digital Library

یادونه :

لا ندې لیکنه پر (دریا در شبنم) چې په دې ټولګې کې هوازې خو شعرونه ورځنه ژباړل شوي چاپ شوي وه.

# ددې ټولګې په اړه........

" زه د هغه قوم یم چې له شعره سا اخلي . پر شعر خپل وېښتان ږمنځوي او شعر اغوندي . زموږ ترمنځ د ټولو هغو ماشوما نو په شیدو کې چې تازه دې نړۍ ته پل ږدي د شعر تومنه شامله وي . زما د وطن ټو ل خوانان خپل لومړنی عاشقانه لیک په شعر لیکي ..... او زما په هېواد کې ټو ل مړي په هغو قبرونو کې ویده دي چې پر شناختو یې د شعر دوه بیتونه کښل شوي وي ....."

"نزار قبانی"

له ډېرو پخوا زمانو راهیسې له هغې اوشعرونو سره یې ، د روح او فکر له عظمت سره یې مینه لرم. هغه له هغو نادرو سندرمارو څخه شمیرم چې څه لیکي د زړه له تل ایمان او بشپړ باورپرې لري. بنایي همدا لامل به وي چې لیکنې یې زړونو ته لاره کوي ، او هېڅکله هغه او نړۍ یې درته بېګانه نه ښکاري. هر کله چې د هغې لومړني شعرونه لولم په خپل سره د زمان وړې ستنې په شا څرخي. او هغه وخت چې اوس لرې پاتې دی خو تر ټولو خوږې شېبې وې رایادوي. راځئ یوه شبېه یې په یاد راولو ، هغه مهال د پسرلي سره یو ځای د نوروز په لومړنیو ورځو کې د ژوند سهار انګیز ، زیري ښنونکی او تازه فصل و. دلومړي ځل لپاره د مینې ګل ورو ورو زموږ په زړونو کې غوړېده او هر ګل موږ ته نوی بوی درلود. د بندو بنجرو له شا به هغه د غلا کاته را په زړه کړو چې زړونه به ورسره په ډېره بې صبرۍ سره درزېدل او ددې درزا په هر غږ به یې شېبې شمېرلې ... هغه پاڼې چې عاشقانه به لاس په لاس کېدلې او د خاطرو په ټولګې به بدلېدلې. هره پاڼه به یې په

ketabton.com - The Digital Library

ښکلېو طرحو لکه د ډېوې ګل او پتنګ ، تپې زړه ، کرښو او داسې رنګونو چې د احساس څرګندويي به يې کوله ښکلې شوې وه.

ددې ټولګې شعرونه او انځوريزې طرحې هم همداسې رنګ لري.

د شعرونو په انتخاب کې موخه د شاعرې د خلاقيت د بېلابېلو دورو د غوره اثارو انتخاب نه و، بلکې ددې ټولګې شعرونه د شاعرې د تنکۍ ځوانۍ اثار او لومړنۍ تجربې دي چې د شپېتمو او اويايمو کلونو تر منځ لیکل شوې ، او دادي په امانت دارۍ راټول شوي دي ددې د لنډکيو شعرونو هر ځل لوستنې ما ته د خپل تنکي زلميتوب خوږې شېبې را ستنې کړي دي او د څو شېبو لپاره يې را څخه د ننۍ ورځې غمونه هېر کړي دي.

که چېرې ددې ټولګې لوست وکړی شي چې که د يوې لنډې شېبې لپاره هم وي ،په هغو کې چې زموږ په عمر دي ، نيمه ځوانان دي، په هغو کې چې ځواني يې د جګړې شيطان ولجه کړې ده ، همدارنګه په هغو کې چې زموږ د هغو شپو ورځو له احساساتو نا خبره څه دننه په هېواد او څه د هېواد څخه بهر دي او د ژوند په ښه پړاو کې دي ، ورته احساس رامنځ ته کړي موږ خپلې موخې ته رسيدلي يوو.

ددې شعرونو فني او تخنيکي کره کتنه او څېړنه هغوی ته پرېږدم چې په دې برخه کې د نظر څښتنان دي. پرېږده چې له کومې کړکۍ څخه د شاعرې نړۍ ته ګوري !؟

دستې به ګريبان بهار آوزيد
يا بر صدف ګردن يار آويزيد
آنجا که به عشق و عاشقي جايي نيست
سردار قبيله را به دار آويزيد.

"امیر صبوري"

هژبر شينواری
هميلتون کاناډا ۲۰۰۱

ketabton.com - The Digital Library

# ګرانو لوستونکیو!

د پروین پژواک دا شعرونه مې نېږدې شپږ کاله د مخه هغه وخت ژباړلي وو چې په پېښور کې اوسېدم. هغه وخت قدرمن عوض حصارنايي چې د بي بي سي په تعليمي خپرونو کې مې همکار و د خور ژبې شاعرې پروین پژواک( دريا در شبنم ) شعري ټولګه راکړه او ما هم چې ولوسته نو خدای شته چې ډېر اغېز يې راباندې وکړ.
ځو شعرونه مې ترې وژباړل، کله مې چې خپل يو مشر شاعر ملګري ته ولوستل نو د هغه خوښ شول، هغه دا ټولګه لوستې وه او له مينه والو نه يې و، هغه وهڅولم چې نور شعرونه يې هم وژباړم او ما هم ځينې نور وژباړل، چې په پای کې ترې دا ټولګه جوړه شوه.
درانه استاد بريالي باجوړي راته وويل چې بايد د چا ديو اثر د ژباړې د مخه يې د شاعر يا ليکوال اجازه ترلاسه شي.
خو دا وخت نو داسې وو چې ژباړل شوې ټولګه نوره چاپ ته چمتو وه.
له نيکه مرغه په هماغو ورځو کې پروين پژواک له خپلې کورنۍ سره له کاناډا پېښور ته راغلې وه او يوه ورځ چې دوی د بي بي سي دفتر ته راغلې وو د ځينو دوستانو په مرسته مې ددې ژباړې نه خبره او داسې په نه زړه اجازه ترې ترلاسه کړې شوه.
خو زه له هغې وروسته کابل ته راغلم او زما له ځينو نور کتابونو سره يو ځای ددې ژباړې د چاپ کار هم نيمګله پاتې شو. تېر کال په کابل کې وم او خپل ځينې کتابونه مې چاپ ته تيار ول چې دياد بنتونو په منځ کې دا ژباړه هم په مخه راغله غوښتل مې چاپ ته يې وسپارم.
درانه هڅبر شپنواري راته ددې شعرونو له اصل سره خپرې شوې انځوريزي طرحې هم راستولې او د پښتې لپاره يې هم ورته طرحه وکښله. خو په دې منځ کې زما کله بيا په سر شوه او د چيک جمهوريت ته راغلم چې يو وار بيا يې د چاپ کار وځنډېده. او



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

اوس له نېکه مرغه چاپ ته چمتو ده.

زه نه پوهېږم چې زه به د درنې پروين پژواک د سپېڅلو احساساتو په ژباړه کې (له دري نه پښتو ته) څومره بريالی يم. خو خپله يوله خواري مې پرې کړې ده. پوهېږم چې له نيمګړتياو به خالي نه وي خو که چېرې کمزورې وي هيله ده چې لوستونکي يې زما د ژباړې کمزوري وبولي نه د پروين د شعرونو.

په ژباړه کې مې تر ډېره حده د پروين د شعر د خيال او فکر امانتداری، ته پام ساتلی دی خو د وزن او اهنګ په پام کې نيولو سره مې يو نيم ځای ځينې کلمات ور زيات کړي او يا هم کم کړي. داسې چې د شعر په منځپانګه اغېز ونه کړي. همدارنګه يو نيم ځای چې د سرليکونو ژباړه په پښتو خوندوره نه راتله نو د شعر د منځپانګې نه مې د هغې لپاره يو بل سرليک غوره کړی دی هيله ده چې درانه لوستونکي به مې ډېر نه ګرموي.

ما که څه هم د (دريا در شبنم) نه د ژباړې پر مهال هغه شعرونه انتخاب کړي، چې د ځرنګوالي له مخې مې خوښ شوي دي. خو بايد ووايم چې په دې ټولګه کې تر دې ژباړل شويو شعرونو سربېره ځينې شعرونه داسې هم شته چې ښايي د ځرنګوالي له مخې به له دې څو چنده ښه او ښکلي وو خو زه افسوس کوم، چې ما يې په پښتو د ژباړلو وس ونه موند.

په پای کې له خپلو درنو فرهنګي ملګرو نورالحبيب نثار، مصطفی سالک ،عبدالهادي هادي او هژبر شينواري څخه ډېره مننه کوم او کورودانی ورته وايم چې په ژباړه او ددې ټولګې په ترتيب کې يې هېڅ ډول مرسته را څخه ونه سپموله

په ډېره مينه

**اجمل اند**

پراګ.د چيک جمهوريت

۲۰۰۷/اګست/۲۲

# ژمی



چې هر سهار له خوبه پورته شمه
په یخ وهلې ښیښه
د ګرمو ګوتو پر سر
ستا د نوم توري لیکم.
بیا له هماغې نه بېرون څارمه
چې به شینکی پسرلی کله راځي؟





ketabton.com - The Digital Library
AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# ګلاب



چې ها لومړی سور ګلاب مې درکه.
ها ! دې په یاد پاتې دي؟
ما ها ګلاب ته و هر څه ویلي
او هغه هم و تا ته ټول و ویل.
خو خبر نه وم چې د ګل په ژبه نه پوهېږې !



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ګیټارنواز

ماته ګیټار وښایه
زه د سندرو اوازنه لرمه
خو یو لوی درد لرمه
چې په تارو به یې درته وغږوم .



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ناخبري

کله چې مړ شو
لا تنکی زلمی و
او په دې نه پوهېده
چې دا مرګی څه شی وي؟
کله چې ټولو ژړل
هغه د خپلې مورکۍ لاس ونېوه:
لکه چې خوب راغلی
بیا مې لږ ژر بیدار کړه !



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# غوټۍ

پسرلی دی،
که منې !
کوم یو یې ومنمه؟
د ویالو څنګ ته ګلان ټول وچ شوي
او ته تازه غوټۍ یې !



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# د شپې

هغه مهالې، چې له ما بېلېده
اوښکې يې پرلپسې ستورو په شان
د سترګو شپې کې ځلېدې پرېوتې
اه !
شپه نور
له ستورو ځينې ډک اسمان ته نه شم کتی.



SCAN AnyScanner

# ستا شعر



کله چې ستا د شاعرۍ کتابچه
له ماسره وي نو نږدې يې راته
ان له رښتيا هم نږدې
زه ستا د فکر دا زريني پاڼې
يوه په بلې پسې
کله چې ستا د شاعرۍ کتابچه
له ماسره وي نو نږدې يې راته

ketabton.com - The Digital Library



ان له رښتیا هم نږدې
زه ستا د فکر دا زرینې پاڼې
یوه په بلې پسې
اړومه
ګرم احساس دې کړمه خپله احساس
او بیا ګومان کوومه
چې ګویا ستا فکر زما فکر دی.



AnyScanner

# سرچینه



زما کاته د واورو غرونه
ستا کاته بې درېغه لمر دی
دا لامل دی
چې
چینه د سپینو اوښکو
مې روانه نه وچېږي.

ketabton.com - The Digital Library



# ماښام

اي !
غږدي
د شنه سهار
مرغیو غوندي
لمر خوبه نه يې
چې ماښام ځې
او سپيده دم راګرځې !؟



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ټپۍ مرغۍ

اوبه يې بندې کړې له وني ځني
ټوپکي يې وکړلې
ويني يې ورکړې ورته
د مردکيو باران ووريده
يوې مرغۍ سره هم روغ زړکوټی
پاتې نه شو.



SCAN AnyScanner

# بې له تا



مرګ بې له تا نه وېروونکی نه دی.

ژوند دی

چې تل مې بې له تا وېروي.

ketabton.com - The Digital Library



# غرور

ارام کتل دي
د ختیځ له دنګو مهربانو غرونو
څرک ووهي
او په نازناز
دلویدیځ د غرور
د سمندرونو
ترشا پرېوزي .



SCAN AnyScanner



# ونه

ويل دې بد له ښکارې؟
ښايي ستا سترګو به تغير کړی وي
زه لکه ونه يمه
ونه خو تل ونه وي
دا موسمونه دي
چې تل په بېلا بېلو سترګو
ونې ته پاڼې او غوټۍ ورکوي
پخې مېوې دلۍ دلۍ ورکوي
بيا يې بربنډه کړي
(څادر ځنې د پاڼو يوسي)
بيا ورته لپه د ځوانۍ ورکوي
خو ونه، ونه ده
او تل ونه ده.

ketabton.com - The Digital Library



# افغانه ښځه

ها ګل چې کانې شو
هماغه زه يم .
تر ګل نازکه ومه
خو اوس وېرېږمه چې
له کاڼي سخته به شم.

ketabton.com - The Digital Library



# راکرځېدنه

ها غوړېدلي لکه ګل د سپوږمۍ
ستا نوراني مخ په اوبو کې وینم
د باد په شانې رانه تللي اشنا
بېرته راتګ دې په خوبو کې وینم



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پانګه

ځان له بې وزلو شمېرې
خو ولې تا سره
دا مینه زما؟
ولې دا زړه زما
چې واک کې دې دی
تا ته ارزښت
نه لري !؟

ketabton.com - The Digital Library



# خزانه

د زړه صدف مې چاته نه راسپړم
په کې په خبر د ملغلرې يې ته
و ېرېږم څوک دې رانه ونه لوټي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# سينه کې

ماته وايي:

ارامه اوسه !

خو که سينه کې سمندر ولري

او سينه هم وړه وي

نو ګرانه څه به کوې؟



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ملګرتیا

زما او ستا
د اشنایي په ورځې
لمر کې باران اوریده
لمر ته وې
باران زه وم.
زموږ لا سونه زرغونې غوندې وو
چې شول یو بل ته اوږده
موږه یو پل د ځوانۍ
د لېونتوب او مینې
د سیند پر سر وتاړه
د ژوند د مست سیند پر سر.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# ساده ګۍ



ته د خزان له زړي پاڼو پيدا
او زه د يخ ژمي له سپينو واورو
ځومره ساده وم
بېهوده مې غوښتل
چې زما او ستا په تړاو
به پسرلی جوړ کړمه.

ketabton.com - The Digital Library



# عشق

عشق که وران کړم
نو اباد يې هم کړم
او عشق که چپ کړم
نو فرياد يې هم کړم
عشق که خوابدی کړم
ښاد يې هم کړم
عشق که بندي کړمه
ازاد يې هم کړم.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# دوخواوې

ته د غروب وایې
حیران شمه زه
په ما خو لمر راخېژي
ښایي ته غرب کې یې
او زه په شرق کې
چې ستا غروب
زما د لمر خاته وي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# بیلتون

ستا په کتو کې
شنه رودونه جاري
ما زرغونه کړه
او اوبه راکړه
چې تندې مړه کړم
زما نظر دې د لیمو د سیند
زرین
ماهی
دی.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library




یم لېونی، لېونی
له ژونده تا غواړمه
لکه کوچنی ماشوم چې
له موره لمر و غواړي.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# بې ارزښته



موږه يې ببل کړو سره
خو ستوري و نه لوېدل
غرونه هم ويلي نه شول
نه کوم ځنګل اور و اخيست
نو که دې لوی جهان کې
يو دوه تنکي زړونه تېپي شول
په دې څه کمېږي؟



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# سیند او ونه



شینکی زرغون نیالګی و
چې د مست سیند په زړه کې
شین شولو
او ورسیده
کله چې سیند وغوښتل
چې شینکی سیوري ته یې
دمه وکړي
زرغون نیالګی وویرید
و تښتېده .
په یوه ورک ساحل یې ځای ونیوه
او د سیند په شنو سترګو کې
د اوښکو
شنې شنې پاڼې
ورغړېدې



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# هرکلي

په هره هغه شپه چې
سبا یې ستا د دیدن
ورځ وي ګرانه !
بنه بې اختیاره ژاړم .
اخر د هر پسرلي
له رسېدو د مخه
باید باران و اوري.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# لټون

پرون سراب و

نن ترخه تنده ده.

اوس د سبا په هیله

ښایي په هغې کې

چینه و مومم.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ونه

ای ! چې کتو کې دې جادو د خزان
داسې چې ژېړه دې کړم
او س نو را والوزه
چې لوخه شمه.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پاڅون

زه یم پر خپلو دوو پښو ولاړه
په دې پوهېږمه که ولوېدمه
څوک به هم لاس رانه کړي
ای زما دوو پښو !
پرځمکې ښې کلکې شئ
او خپلو اکي مې پیل کړئ
ای زما دوو لاسونو !
ژر د لوېدونکو خواته لاس اوږد کړئ.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# سیند

د باران غړېته
د شپې غوږ ، غوږ يمه
د شپې له څانه سره فکر کوم
د غو زرګونو او وړو څاڅکو ته
چې ځينې سيند جوړېږي .
زه ټوله شپه د باران هيله کوم
زه ټوله شپه
په خوب
کې
سيند
ګورمه....



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# وږره

حیرانه پاتې وږه دلې یمه
هغه صدف غوندې یم
چې په سهار له خوبه ولتېږي
د ملغلرې پر ځای
په خپله غېږه کې وړه کاڼي مومي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# د باران هینداري



وربځو ( په شنه پسرلي )
د باران (سپینې) او وړې هینداري
ګل ته ډالۍ کې ورکړې
تو پان د ګل پر ( شینکو ) پاڼو کښناست
او د باران وړې، وړې هینداري ماتې شولې
نو د ( سورکي ) ګل پاڼې پاڼې تصویر
باد سره والوتلو
مامې د ورک زړکي انځور ولېده
چې په هوا تبر شو.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# يوازې

ته خو روان يې او ځې
او زه چې غوړېږم نيسم
نو بې له تاله کوره
لکه خالي بې ملغلرې صدف
تش د شمال غېږ راځې



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# مسخره

هو هو !
خوا خوږی مې دی .
که مې له شانه په خنجر هم وهي
خو په ټپونو راته
پټې د سپنې مالګې هم لګوي .





SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# که چیرې



چې کله تللې رانه
نو پوهېدمه چې به بېرته راځې
زړه مې ونه لړزېده
اوس چې راغلی یې ته
لکه یو څوک چې نابېره سترګې وغړوي
وپوهېږي
چې یو دلوی ګړنګ ته
له پرېوتلو یې نجات موندلی
لکه باران ژاړمه
په بې صبرۍ سره له ځانه پوښتم
که دا راغلی نه وای !
اوه.....
که ته راغلی نه وای !........



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# واتن

زما اوستا تر منځه
یو ګام واتن پروت و
خو زړه نازړه شېبو
همدغه یو ګام
دومره وغزاوه
چې اوس
په
سل ګامه
هم نه لنډېږي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# بنسټ

ته د دې کور بنسټ يې
تر څو چې ته اوسېږې
د دېوالو د ابادۍ هيله شته
که چېرې ونه اوسې
نو ودان شوي دېوالونه به هم
ونړېږي



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# سپیده دم

دا ستا لاسونه سپېده دم غوندې دي
کله چې څرک زما د تن په کرونده ووهي
د شپې تیاره او درد مې دواړه هېر شي
کاش ! زما لاس کې هم وای دا سې درمل
چې رنځ یې ستا د تن له شنو ځانګو نه
لکه د ژېړو پاڼو
په یوه مخ تو ږلی.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# شیطان

دوزخ یې تن کې درلود
ځان یې شیطان بللو .
خو چې زما د غېږ په شنه جنت کې
ځای ونیوه
وپوهېده .
چې دده خپل نوم
پرښته وه
پخوا.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# الوت

خپلو خوبونو کې مې والوزمه
زړه مې لړزېږي نا باوره شمه ځان ته ګورم
لکه د سیند په سر الوت د مرغۍ
ایا بندۍ مرغۍ هم
لکه زما په څېر خوبونهویني؟



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# سرتیرې

کله یې چې ووژلم ویې خندل.
ستا له خندا نه مې شه وینه لوګی
خو چې له شادۍ ګوزار ولې وکړ؟
ما درته ګرانه و ټتر لوخ کړی!



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# درد

دا څومره لوی درد دی؟
ړنده هم نه یمه
خو نه یې وینم
ما هغه واړه ژوند کې
په دوو خلاصو سترګو ولټاوه
کله چې ومې مونده
وپوهېدم
چې د لېدلو حق یې نه لرمه.



SCAN AnyScanner



# باران

زه په دې نه پوهېږم
چې باران څنګه اوري؟
او شینکي څنګه شنه شي؟
زه خو یوازې بس همدومره وینم
کله چې ته راشي
زه وغوړېږم.

ketabton.com - The Digital Library



# باغوان

د هغه لاس و لکه لاس د ورږمې
زما پر ملا یې تبر کړ
او ملا مې هم
لکه پخې مېوې نه ډکه څانګه
ورته شوه پښو ته ټیټه.



AnyScanner



# سترګې په لار



ای د غاټولو دښتې !
سترګې پر لار وې ماته؟
زما په تمه نه شې
زه لکه وریځ د سپرلي
کله په یو عالم زړه سوي وربېږم
کله سخت زړې شمه
خندا په خوله تېرېږم .

ketabton.com - The Digital Library



# شال

خزان د دنګ چینار رپاند لاسو کې
د شنو رنګونو ایتونه لوستل
د شینکو ځانګو خوشباوره پاڼې
د شنو او سرو باغو په ورکه هیله
د دنګ چینار له ښاخو تښتېدلې
او لاروي باد ته یې
ربښې ربښې او رنګین
شال ورباښه.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# جرئت

ويل مې:
راشه!
ولاړه.
هر خبر مې سر چپه آخلي
خو ما کې دومره جرائت هم نه شته
چې ورته ووايمه:

څه!

او راشې.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# کوژده

د لمر د وړانګې کړۍ
چې یې د ګوتې له شنه بناخه تاو شوه
هغه بندي شو
زه ازاده شومه.

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

زړه مې ډالۍ کړ درته
خو تا ارزښت ور نه کړ
اوس درته څه ډالۍ کړم؟
ما ته خو بل هېڅ شی ارزښت نه لري.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# تعبیر



د زرین لمر ځرک مې په خوب کې لیده
سپینې کوترې
او د دښتو هوسۍ
ځو ستړي ستړي اوښان
مست او سرشاره کوچیان
چې راروان وو بېرته
د یوې سمسورې شنې جلګې د پاسه
ځان مې په خوب کې په ملي جامو کې
جوړ لیدلی .
ای بیدارۍ !
زما د خوب تعبیر په سوله وکه .



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# درناوي



راته یې نوم د ملکې وبښه
د دروغو تخت باندې یې کېنولم
د نیکمرغۍ ها ساده تاج چې
مې پر زړه ځلېده
له ما یې واخیست
او پر ځای یې راته
د دروغو تاج د سر له پاسه کېښود
هغه مهال یې نو بیا
د عشق او ژوند د خوږ سرود پر ځای
زما مقام ته درناوی وکړ
روان شو زیاتي.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ځواني

غوارمه و ناځمه
خونبه او سم
وځاندمه
او
تاسره مینه وکړم .
(نو اوس یې ته ووایه)
چې ایا دا به سپین سترګې وي زما
که یوه پاکه او سپېڅلې د ځوانۍ هیله ده !؟

ketabton.com - The Digital Library



# مینه

یوه ونه چې
څانګې
یې
مینه
پاڼې یې هینداري
او مېوه یې درد وي
په داسې ونه کې به
دمینې کومه مرغۍ ځاله
نه کړي؟



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ناسور

ګرانه:
له تېرو خاطرو مې پوښتې؟
واخ !
په زړو ټپونو کار مه لره

کېدی شي
ډېر په کې تازه پاتې وي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# پیوند



ماته را ماته وم
پیوند دې کړمه
په زړه رو ږدې وم
خندا دې راکړه
او س مې له تا سره رنګین پیوند دی
لکه او ښکو او خندا تړون
لکه د سرې شنې زرغونې په شانې
چې وي دلمر او دباران ترمنځه.

ketabton.com - The Digital Library



# پرښته

له ما خپه شو لاړو
اوس اند ښمنه يمه
وايم چې دا به وي کوم خواته تللی؟
سيند ته ځنګله ته که صحرا ته تللی
خو پرښته وه هغه
او له اسمانه پرته
بل چيرې ځای نه لري.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# هيله

يو ستوری اوس هم شته دی
چې زما تکې تورې شپې رڼوي
تر څو چې دا ستوری وي
نو د تيارو بندي، به نه شم چېرې !



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library




شپه وه
او دواړه د کوخې په کونج کې
وو ناکراره ولاړ.
تا مې لا سونه
په لاسونو
کې وو کلک نیولي
ښايي ددې لپاره
چې له شپې ډار ونه کړم
خو زما ستا له لاسو
ویره کېده
له دغې تولو سره
د شوپرک الوت زموږ د سر له پاسه
بس و
چې ځان دا ستا په غېږ کې و غورځوم



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پخې منې

زړه مې بېخي راډک دی
یوه وړه خبر به بس وي
چې مې وژړوي
د تن شینکي مې راته زیړې تبې
سره واړول.
هواکې عطر خپاره

منې پخې دي، پخې
منې پخې دي، پخې
یوه شیطان ماشوم هم
د باغ له لوړ دېواله
دې خوا را ونه دانګل
چې منې وشکوي



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# نالوستې



زما د مرغیو ژبه هم یاده ده
ګلان په خپلې خاموشۍ کې زما برخه کوي
له باد سره هم ځینې پټې زمزمې لرمه
ونې د خپلو خاطراتو پاڼې
ما ته راکوزې کړي او لولي يې راته
خو ستا کتو کې څه شی
څه عجیبه دي ګرانه!
چې ورته وګورم
نالوستې شمه.





AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# داغ



هغه ورکوټی صدف
له څو شیبو پرته زرین لمر ته ونه ځلېده
او دوباره
ابدیت
غېږ کې واخیست
خو:
د ملغلرې داغ یې
د مور دمات زړګي پر سر پرېښوده.

ketabton.com - The Digital Library



# کنري

زما ها وړ کنري
خپلو سندروکې
تل
ته ستايلې.
ورته مې نه دې ويلي
ته تللی يې.
کنه!
سندرې به بيا هيڅ نه وايي.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# عشق



له شنه پیچومې نه یې
سر وواهه.
سترګې یې دوه لمرونه
غږیې د مست سیند شرنګا
قد یې څنګله پشانې
اوږې یې غره غونډې وې
څنې یې خوږ نسیم
د عطرونو باران
ورته حیرانه پاتې:





څوک به وي دا ؟
هغه مسکې دې راته:
عشق !!



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# خدای پامانې

دا چې زما اوښکې دې ولېدلې
ودې ویل:
بیا راستنېږم. راستون به شمه
خو ته بیا نه راګرځې،
دروغ دې ووې.
خدای پامانۍ پر مهال
دې ناري نه کړې:

د لیدو په هیله....

بلکې په ورو دې ووې:

د خدای پامان!



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ځايېدل



زړه مې يو لوی زړه دی
ځکه ستا هغه مينه
چې يې بيان
د کتابونو منځ کې
نه ځايېږي
په دې واړه زړه کې مې
په اسانۍ ځای شوې.



# یوازېنې

زړه مې اسمان ته ورته
په دې اسمان کې ستوري هم شته
سپوږمۍ هم شته
کهکشان هم شته دی.
خو په دې منځ کې تنها لمر نه شته.
که یوه ورځ یې چېرې ځرک وواهه
پوهېږم
وړانګو ته به یې
ستوري،
سپوږمۍ،
کهکشان پاتې نه شي.



ketabton.com - The Digital Library

# باران



دا د باران ترنم
د سپیده دم پرمهال
شینکي له خوب پاڅوي

دا د باران ترنم
لکه غږ، ستا د پلونو
(اورمه )
ته رادرومي
لکه باران
باران
باران
به راځي
او زه،
لکه ځنګل
ځنګل
ځنګل
شنه کېږم





AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library

# زما قلمونه



ابي رنګ تمام شو
او اوس يې پر تور رنګ ليکم
هېله مې ختمه شوله
اوس د بوې بلې هېلې
په تمه سا باسم.

سيند په پرخه کړئ



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# غوټه

ته مې د ژوند تر ټولو لویه ستونزه ،
چې دې هر څه د هواري هڅه کړم
لا هم سختېږي راته.



AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# اعتراف

زما د هیلو
تر ټولو پرلوړ تاک رازوړند
خوږو انګورو !
ستا مزه تروه نه ده
خو زما لاسونه لنډ دي.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library




ځوانو لاسونو ته مې
خزان وهلو پاڼو
دا ورښودلې دي چې
شينکی هم پاې لري.



SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



ستاسو په لاس کې شعري ټولګه د خوږ ژبې او تکړه شاعرې پروین پژواک د څو شعرونو پښتو ژباړه ده.

پروین پژواک د ۱۳۴۵ لمریز کال په ژمي کې کابل کې زېږدلې. منځنۍ زده کړې یې د ملالۍ په لیسه او لوړې زده کړې یې د کابل د طب په پوهنځي کې بشپړې کړې دي. پر شعر سر بېره، لنډې کیسې، ناولونه، او د ماشومانو لپاره رسمونه ددې عاطفي شاعرې نور هنري اثار جوړوي.

"سیند په پرخه کې" د پروین پژواک لومړنی شعري ټولګه ده چې د شاعرې لومړنۍ هنرې پنځونې په کې راټولې شوی او په ۲۰۰۰ عیسوي کال کې په پېښور کې خپره شوې.

د پروین پژواک دا شعرې ټولګه د افغانانو په کنو ادبي کړیو له تاوده هرکلي سره مخ شوه.

اجمل اند ددې سترې هنرمندې له همدې ټولګې څخه څو د ګوتو په شمیر شعرې بېلګې پښتو ته راژباړلې او په دې ټولګه کې یې راټولې کړې دي. اند د پښتو ژبې په نوې شعري بهیر کې یاد شاعر دی چې تر اوسه یې د شعرونو څلور ټولګې خپرې شوې دي.

چاپ چارې
د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکې څانګه، پېښور
www.danishpress.com

AnyScanner

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*